عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۱۲ مارچ ۲۰۲۱

اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
پنځه اویایمه ناسته
د اجنډا ۳۹ ماده
د افغانستان وضعیت

د امنیت شورا
شپږ اویایم کال

# د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

## لومړی. پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپور ورکړي، وړاندې کیږي.

۲. د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر پر ۹ نېټه د پخواني راپور (A/75/634-S/2020/1182) راهیسې، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیایي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

## دویم. اړوند پرمختګونه

۳. د ولسي جرګې له خوا د ولسمشر اشرف غني د معرفي شویو نوماند وزیرانو په تایید سره د حکومت د تشکیل په برخه کې پرمختګ ترسره شوی. په دوحه کې د افغانستان د سولې مذاکرات پر طرز العمل او د اجنډا د مباحثو د پیل په برخو کې د توافقاتو شاهد وو، چې د اوس لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکي ټیم ملاتړ د مصالحې د عالي شورا، چې مشري یې د عبد الله له خوا کیږي، د رهبرۍ د نوي تشکیل شوي کمیټې له خوا کیږي. د امریکا متحده ایالاتو د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر نیمه یې پورې د خپلو ځواکونو شمیر تر ۲۵۰۰ پورې راکم کړ. د هدفي وژنو د زیات شمیر په ګډون په ۲۰۲۰ کال کې د ریکارډ تر کچې ثبت شویو امنیتي پیښو د ولسي مرګ ژوبلې بار لا پسې زیات کړی. دولت د بین الافغاني سولې او پخلاینې، اقتصادي همکارۍ او اتصال په اړه سیمه ییزې اجماع ته وده ورکول جاري ساتلي. د روان تاوتریخوالي، طبیعي پیښو او د خوړو د لوړې کچې نا خوندیتوب له امله بشري اړتیاوې د ریکارډ تر کچې لوړې شوي کومې چې د کرونا مکروب (کوویډ-۱۹) له ناروغۍ سره ملې وې.

## الف. سیاسي تحولات

۴. د سیاسي مخالفو فعالینو د ځای پر ځای کولو د هڅو په ګډون د حکومت د تشکیل بهیر دوام درلود. د ۲۰۲۰ کال د نومبر له ۱۶ څخه د ډسمبر تر ۲ نېټې پورې، ولسي جرګې د اکتوبر پر ۲۱ نېټه د ښاغلي غني له خوا له ښاغلي عبد الله سره د ۲۰۲۰ کال د مۍ د ۱۷ نېټې د سیاسي تړون له مخې د ۲۳ نوماند وزیرانو او دریو نورو نوماندانو د تایید لپاره شپږ د استماع او درې د باور رایې ناستې ترسره کړې. له ۲۳ نوماندانو څخه ۱۹ (د ۲ ښځو په ګډون) هغوي باور رایې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې (د ۲ ښځو په ګډون) د ښځو چارو، پوهنې، اطلاعاتو او کلتور، د کلیو د پراختیا او بیا رغونې او د مرکزي بانک لپاره نوماندانو د باور رایه تر لاسه نه کړه. ولسمشر تر دې وروسته دوه تایید شوي وزیران هر یو د عامې روغتیا وزیر د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر پر ۳۱ نېټه وروسته له هغې چې په هغه پورې اړوند دوه افراد د اداري فساد په تور ونیول شول او د ۲۰۲۱ کال د جنوري پر ۱۹ د مالیې وزیر د نورو لاملونو تر څنګه د اساسي قانون د احکامو د نه رعایت کولو په تور له خپلو منصبونو ګوښه او پر ځای یې سرپرست وزیران وګمارل. سربېره پر دې، ښاغلي غني د شهیدانو او معلولینو د چارو د دولت نوی وزیر وګماره او تر څنګ یې د نړیوالې سوداګرۍ او اقتصادي میثاتونو او تړونونو لپاره ولسمشریز حقوقي واحد، د عوایدو عالي شورا، د خوړو او درملو د مدیریت او د انرژۍ د تنظیم اداره تاسیس کړل.

۵. پارلمان خپل د بودجوي تخصیص او لګښتونو څار غښتلی کړی. د ډسمبر پر ۹ نېټه، د مالیې وزارت د ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) مالي کال لپاره د ملي بودجې لومړۍ طرحه وړاندې کړه، چې دوه پر درې برخه یې د عملیاتي او یو پر دریمه برخه یې د پراختیایي لګښتونو لپاره ځانګړې شوې وه. ولسي جرګې د بودجې طرحه رد کړه او د ملکي خدمتونو د کارمندانو د معاشاتو او د ولایتي او سکتوري پراختیايي بودجې د تخصیصونو تر منځ یې د انډول غوښتنه وکړه. د ۲۰۲۱ د فبروري پر ۴ نېټه د مالیې وزارت له تعدیلاتو سره د بودجې دریمه طرحه وړاندې کړه.

۶. د ډسمبر او جنوري په میاشتو کې د بغلان، سرپل، کندهار، جوزجان او لوګر ولایتونو والیان بدل شول. د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې د ولسمشر له لوړې راهیسې، له ۳۴ والیانو څخه ۲۶ هغه یې بدل شوي. د ډسمبر پر ۶ نېټه، په بادغیس، غزني، لغمان، لوګر، کاپیسا، کونړ، نیمروز، نورستان او زابل ولایتونو کې نهه ښځې د دویم مرستیال والیانو په څیر ګمارل شوي. له ۳۴ مرستیال والیانو څخه ټولټال ۱۵ هغه یې، چې د ښځو لپاره خوندي شوی منصب ګڼل کیږي، ګمارل شوي.

۷. د ټاکنیزو اصلاحاتو د ترسره کولو هڅې، چې د اساسي قانون له خوا د سپارل شویو او د ولایتي، ولسوالیو د شوراګانو او د ښاروالیو د نا ترسره شویو ټاکنو لپاره چمتوالي ونیسي لکه څرنګه چې د ښاغلي او ښاغلي عبد الله ترمنځ د ۲۰۲۰ کال د مۍ د ۱۷ نېټې په تړون کې په ډاګه شوي، په سوکه ډول پرمخ لاړې دي. د ډسمبر پر ۱۵ نېټه د انتخاباتي مدیرت دواړو ادارو، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) او د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د ملګرو ملتونو د انتخاباتي ملاتړ د پروژې تمدید لاسلیک کړ څو د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر تر پای پورې د ملګرو ملتونو تخنیکي مرسته ادامه ومومي. ښاغلي غني او د هغه دواړو مرستیالانو د جنوري پر ۱۷ او ۱۹ د ټاکنو له خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو له چارواکو سره ولیدل څو په غزني ولایت کې د ولسي جرګې د ځنډول شویو ټاکنو او دغه راز د ولایتي شوراګانو، د ولسوالیو د شوراګانو او ښاروالۍ د ټاکنو د ترسره کولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. انتخاباتي ادارو د امنیت، بودجې او کارمندانو د برابرولو په شرط د ۲۰۲۱ کال په اکتوبر میاشت کې د ټاکنو د ترسره کولو لپاره خپل چمتوالی په ډاګه کړ. د افغانستان د شفافو ټاکنو د سازمان او د افغانستان د ازادو او عادلانه ټوکنو د ټولنې په ګډون د ټاکنو د څار کورنیو ادارو په اکتوبر میاشت کې د ټاکنو د ترسره کولو د شونتیا په اړه خپل شک څرګند کړ. د جنوري پر ۲۰ نېټه د ټاکنو د مدیریت

ادارو د ټاکنو په قانون کې د وړاندیز شویو تعدیلاتو په اړه یوه ملي غونډه ترسره کړه. د فبروري پر ۳ نېټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خلکو د نظریو او تبصرو په پار د تعدیلاتو طرحه خپره کړه.

۸. د افغانستان د سولې مذاکرات په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د مذاکره کوونکو ټیمونو د دوامدارو ناستو شاهد وو. د خبرو اترو پر طرز العمل توافق د ډسمبر پر ۲ نېټه اعلان شو او د اجنډا د موضوعاتو په اړه ابتدایي مباحثې د ډسمبر له ۵ تر ۷ نېټې پورې ترسره شوې. دغه طرز العمل د مذاکراتو لپاره تعریف شوي اصول رانغاړي، په داسې حال کې چې د وړاندیز شوې اجنډا ساحې د حکومتولۍ، امنیت، بشري حقونه او د جګړې قربانیان رانغاړي. مذاکره کوونکو ټیمونو د ډسمبر پر ۱۲ نېټه درې اونیزه رخصتي اعلان کړه. نوموړو ټیمونو د جنوري پر ۹ او ۱۰ د تماس ګروپونو په کچه او د جنوري پر ۱۷ نېټه د مشرتابه په کچه سره ولیدل، چې تر هغې وروسته نورې ناستې نه دي ترسره شوې.

۹. په کابل کې، د سولې د هڅو جوړښتونو تشکیل کیدلو دوام درلود کوم چې په سیاسي تړون لیک کې په ډاګه شوي. د ډسمبر پر ۵ نېټه د مصالحې د عالي شورا د رهبرۍ کمیټې لومړۍ ناسته ترسره کړه. د ډسمبر پر ۱۷ نېټه، نوموړې عالي شورا، د بهرنیو چارو وزارت او د سولې چارو لپاره د دولت وزارت له نړیوالو او سیمه ییزو شریکانو سره میاشتنۍ ناستې دایر کړې څو د سولې پروسې په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د جنوري پر ۹ نېټه، د رهبرۍ کمیټې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکي ټیم لپاره لارښوونې تصویب کړې. د مصالحې عالي شورا ۱۳ کمیسیونونه تشکیل کړل څو د مدني ټولنې او نړیوالو څارونکو په ښکیلتون د سولې اړوند پروسې پر مشخصو موضوعاتو کار وکړي. د فبروري پر ۲ نېټه، د ښځو چارو اړوند کمیسیون خپله پرانیستونکې ناسته ترسره کړه. د کمیټې له ۴۶ څخه غړو ۹ هغه یې میرمنې دي.

۱۰. په مذاکراتو کې د درې اونیزې رخصتۍ په اوږدو کې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکي ټیم غړو له ښاغلي غني او د مصالحې د عالي شورا د رهبرۍ له کمیټې، د مدني ټولنې له استازو او نورو شریکانو سره ولیدل. د ډسمبر له ۱۶ تر ۱۸ نېټې پورې، د ملا عبد الغني برادر په مشرۍ د طالبانو پلاوي او د عمده مرکچي شیخ عبد الحکیم په ګډون له پاکستان څخه لیدنه وکړه څو له صدر اعظم عمران خان، د بهرنیو چارو وزیر محکمود قریشي او نورو چارواکو سره لیدنې ترسره کړي. د ډسمبر پر ۲۴ او ۲۵ نېټه د اندونیزیا مرستیال ولسمشر جوسف کالا له کابل څخه لیدنه وکړه چیرې چې هغه د اسلامي جمهوریت له مذاکره کوونکي ټیم سره لیده وکړه څو د اندونیزیا په ملاتړ د کوم چې په دوحه کې د جنوري پر ۲۳ نېټه د طالبانو ټیم ته هم یادونه شوې وه، د سولې پروسې په اړه مباحثې ترسره کړي.

۱۱. د ۲۰۲۱ کال د جنوري په لومړیو دوه اونیو کې، د افغانستان د سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په دوحه، کابل او سیمه کې مختلفې ناستې ترسره کړې چې په مذاکرتو کې یې د محسوس پرمختګ او په تاوتریخوالي کې د کموالي یا اوربند غوښتنه کوله. د جنوري پر ۱۵ نېټه متحده ایالاتو اعلان وکړه چې په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمیر ۲۵۰۰ ته راټیټ کړی. د جنوري پر ۲۲ نېټه د متحده ایالاتو د ملي امنیت سلاکار جک سیولیوان خبر ورکړ چې متحده ایالات به له طالبانو سره د ۲۰۲۰ کال د فبروري د میاشتې تړون لیک بیا له سره وګوري څو دا و ارزوي چې آیا طالبانو پر خپلو ژمنو عمل کړی که څنګه.

۱۲. د جنوري له ۲۶ د فبروري تر ۱ نېټې پورې، د طالبانو یوه پلاوي د بهرنیو چارو له وزیر جواد ظریف او د ملي امنیت د عالي شورا له منشي علي شمخاني سره د لیدنو په موخه د ایران له اسلامي جمهوریت څخه لیدنه ترسره کړه. د فبروري له ۱ تر ۴ نېټې پورې، د افغانستان لپاره د ایران د اسلامي جمهوریت ځانګړي استازي ابراهیم

طاهرين له کابل څخه ليدنه وکړه څو له افغان چارواکو سره د طالبانو د ليدنې د پايلو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د جنوري پر ۲۸ او ۲۹ نېټه، د طالبانو يوه پلاوي د افغانستان لپاره د روسيې ولسمشر له ځانګړي استازي زمير کابلوف سره د ليدنو په پار د روسيې له فدراتيف څخه ليدنه وکړه. د فبرورۍ پر ۵ نېټه، د طالبانو يوه پلاوي د بهرنيو چارو له وزير رشيد ميردوف او نورو چارواکو سره د ليدنو په پار له ترکمنستان څخه ليدنه وکړه. طالبانو په ښکاره پر متحده ايالاتو غږ وکړ چې د ۲۰۲۱ کال د مۍ پر ۱ نېټې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ايستلو مودې په ګډون د ۲۰۲۰ کال د فبروري تړون ليک ته درناوی وکړي، او د دوي له خوا يې د نوموړي تړون ليک د رعايت کولو ادعا وکړه.

۱۳. د فبروري پر ۱۱ نېټه، د اسلامي همکاريو د سازمان عمومي منشي يوه اعلاميه خپره کړه چې په افغانستان کې يې د هدفي وژنو په ګډون د تاوتريخوالي زياتوالی غندلی او له ټولو ښکيلو خواوو غوښتنه کړې چې د سولې پر هڅو تمرکز وکړي. د فبروري پر ۱۷ او ۱۸ نېټه، د شمالي انتلانتيک د تړون سازمان (ناټو) د غړو هيوادونو د دفاع وزيرانو ناسته ترسره کړه چې د نورو موضوعاتو ترڅنګه په افغانستان کې د وضعيت په اړه خبرې اترې ترسره کړي. په يوه اعلاميه کې د ناټو عمومي منشي جنز ستولتنبرګ خبر ورکړ چې ستولټنبرګ چې د دفاع وزيرانو پريکړه کړې چې په افغانستان کې د ناټو د راتلونکي په اړه وروستۍ پريکړه د 2021 کال د مۍ تر1 نيټې د مخه تر نورو روانو سلا مشورو وځنډوي. اعلامې د سولې پروسې لپاره د ناټو پياوړي ملاتړ او د پريکنده ملاتړ له ماموريت سره دوامدار ژمنتوب په ډاګه کړ، کوم چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو لپاره روزنه او مالي تمويل برابروي.

۱۴. د سولې په پروسه کې د مدني ټولنې ګډون او تعامل دوام درلود. د نومبر له ۱۵ تر ۲۰ نېټې پورې، افغان ښځينه رهبرانو د متحده عرب اماراتو په دوبۍ کې د سولې په يوه سرمشريزه کې ګډون وکړ چيرې چې د دواړه مذاکره کوونکو ټيمونو لپاره سپارښتنې طرحه شوې. د فبروري پر ۱ نېټه، د افغانستان د اسلامي جمهوري د مذاکره کوونکي ټيم ښځينه غړو د سولې د مذاکراتو اړوند اندېښنو په اړه له ۱۶ ولايتونو څخه د ښځينه استازو سره په آنلاين مباحثو کې ګډون وکړ. د فبروري پر ۴ نېټه، په کابل کې مشتې د ښځو او سولې د مطالعاتو نا دولتي ادارې د افغانستان د اسلامي جمهوري د مذاکره کوونکي ټيم او ۳۴ ولايتونو څخه د مدني ټولنې د فعالينو ترمنځ يو آنلاين ډيالوګ داير کړ. ګډونوالو د دومدار تاوتريخوالي، په مذاکراتو کې د ځنډ او د ښځو د حقونو د خوندي کولو په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې. د فبروري پر ۴ نېټه، د افغان ښځو شبکې يو ځل بيا د سولې په پروسه کې د ښځو د مهم شموليت غوښتنه وکړه. له نومبر څخه تر جنوري پورې، په ټول هيواد کې د نړيوالې پرانستې ورځې يو لړ مراسم ترسره شول چې د يوناما او د جنډر د مساواتو او ښځو د ځواکمنتيا لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې (د ښځو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو اداره) له خوا يې ملاتړ شوی و، چې د سولې په مذاکراتو کې د ښځو پر شموليت متمرکز وو.

۱۵. د ښځو شبکو د اوربند لپاره غوښتنې تشديد کړې. د فبروري پر ۶ نېټه، د سولې په پروسه کې د افغان ميرمنو د رول په اړه په يوه آنلاين ګردي ميز کې، د طالبانو وياند د طالبانو په مذاکره کوونکي ټيم کې د ښځو نه حضور په دې استدلال کولو سره توجيه کړل، چې ښځې په جګړه کې برخه نه اخلي. تر دغې مباحثې وروسته د فبروري پر ۷ نېټه، د مدني ټولنې ۱۵ سازمانونو او افغان رسنيو د سولې او امنيت لپاره د ښځو نوښت تر عنوان لاندې يو ملي کنسرسيوم جوړ کړ، چې هدف يې د سولې په پروسه کې د ښځو د مهم ګډون ډاډمنول و.

۱۶. يوناما د سولې د ۱۴ ځايي نوښتونو تطبيق جاري ساتلی، چې ۵ نوي نوښتونه د ۲۰۲۰ کال په ډسمبر کې پيل شوي. دغو نوښتونو په بدخشان، بغلان، بلخ، فارياب، کابل، ننګرهار، پکتيا او سمنګانو ولايتونو کې د ځوانانو

استازي، په بلخ، بغلان او بدخشان ولايتونو کې ښځې او ديني عالمان او د يوه اوږد مهاله نوښت د يوې برخې په څير چې د هيواد له جنوبي ولايتونو به په کې قومي مشران شامل وي په کندهار ولايت کې ځوانان او قومي مشران راغونډ کړي، چې د شخړې پر ځايي حل او د سولې پر پروسې متمرکز وو.

## ب. امنيت

۱۷. په ۲۰۲۰ کال کې امنيتي وضعيت لا پسې ناوړه شوي چې ملګرو ملتونو د نومو‌ړي کال په اوږدو کې ۲۵۱۸۰ امنيتي پېښې ثبتې کړي، کوم چې په ۲۰۱۹ کال د ۲۲۸۳۲ ثبت شويو پېښو په پرتله ۱۰ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. دا د افغانستان د سولې د مذاکراتو له پيل سره سره او له هغه وخت راهيسې کله چې ملګرو ملتونو په ۲۰۰۷ کال د پېښو مستندول پيل کړ د ريکارډ تر کچې تر ټولو لوړ شمير ګڼل کيږي. په داسې حال کې چې په ۲۰۲۰ کال کې د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ تر تړون ليک وروسته د هوايي بريدونو په شمير کې په ۲۰۱۹ کې له ۱۶۶۳ څخه په ۲۰۲۰ کې ۹۳۸ ته، ۴۳.۶ سلنه کموالي رامنځ ته شوي، د وسله والو نښتو شمير په ۲۰۱۹ کې له ۱۳۱۵۵ څخه په ۲۰۲۰ کې ۱۵۵۸۱ ته، ۱۸.۴ سلنه لوړ شوی. سربيره پر دې، د لاس جوړ ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو له امله د چاودنو شمير په ۲۰۱۹ کال کې له ۱۹۴۹ څخه په ۲۰۲۰ کال کې ۲۵۷۲ ته، ۳۲ سلنه، او ترورونه په ۲۰۱۹ کې له ۷۸۲ څخه په ۲۰۲۰ کې ۹۹۳ ته، ۲۷ سلنه لوړ شوي، چې د نورو ترڅنګ پر دولتي چارواکو، د مدني ټولنې پر فعالينو، ژورنالستانو، قضايي کارمندانو، او ديني عالمانو هدفي بريدونو اندېښنې را ولاړې کړي. طالبانو په نومبر او ډسمبر کې د څلورو په ګډون، په ۲۰۲۰ کال کې د اوو ولسواليو اداري مرکزونه نيولي؛ چې له دوو پرته پاتې نور يې بيرته د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو له خوا بيرته نيول شوي.

۱۸. ملګرو ملتونو د نومبر د ۱۳ او د فبروري د ۱۱ نېټې ترمنځ ۷۱۳۸ امنيتي پېښې ثبتې کړي چې په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله ۴۶.۷ سلنه زياتوالي په ډاګه کوي او د ژمي په موسم کې له معمول ټيټو شميرو سره په ټکر کې ګڼل کيږي. د پېښې د نوعيت تاسيس شوي جريانونو له کوم بدلون پرته پر خپل حال پاتې دي چې وسله والې نښتې لا اوس هم د ټولو پېښو ۶۳.۶ سلنه جوړوي. دولت ضد عناصرو د وسله والو نښتو د ۹۲.۱ سلنې په ګډون د ټولو امنيتي پېښو ۸۵.۷ سلنه ترسره کړي. د هيواد په جنوبي او په تعقيب يې په ختيځو او شمالي سيمو د امنيتي پېښو تر ټولو لوړ شمير ثبت شوی. دغه سيمې په يو ځای د ټولو ثبت شويو پېښو ۶۸.۹ سلنه جوړوي، چې په هلمند، کندهار، ننګرهار او بلخ ولايتونو تر ټولو زياتې هغه ثبتې شوي.

۱۹. د دولت ضد عناصرو له خوا په ټول هيواد په تيره بيا په کابل ښار کې کې د لوړې کچې بريدونو دوام درلود. د نومبر د ۱۳ او د فبروري د ۱۱ ترمنځ د راپور ورکولو د پخوانۍ مودې د ۴۲ په پرتله ۳۵ ځانمرګي بريدونه مستند شوي، چې شا و خوا ۳۲ هغه يې د موټر بم له هغو ځانمرګو بريدونه جوړ وو چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو هدې او چيک پواينټونه يې په نښه کړي. د ډسمبر پر ۲۰ نېټه، يوه له دغو وسيلو په کابل د ولسي جرګې د غړي پر کاروان وچاوديده چې ۱۰ ولسي وګړي (د ۳ ماشومانو په ګډون) يې ووژل او (د ۳ ښځو او ۱۰ ماشومانو په ګډون) ۴۴ نور يې ټپيان کړل. سربيره پر دې د چسپکي ماينونو (منګوری) په کاروني سره ۸۸ بريدونه ترسره شوي چې ۴۳ هغه يې په کابل د نامې عامو اشخاصو په وړاندې ترسره شوي. هدفي وژنې چې زياتره يې مسووليت کوم مشخص لوری پر غاړه نه اخلي، لا پسې زياتې شوي. په دې کې د ډسمبر پر ۱۳ او ۲۲ نېټه د دريو نارينه څارنوالانو، د ډسمبر پر ۱۵ د کابل د مرستيال والي، د ډسمبر پر ۲۳ د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د اجرائيوي رييس، د جنوري پر ۱۷ د سترې محکمې په رياست کې د ګمارل شويو دوه ښځينه قاضيانو، د فبروري پر ۲ د جمعيت اصلاح د شورا د رييس او ديني عالم او د فبروري پر ۳ نېټه د تجارتي محکمې د يوه قاضي وژنې شاملې دي.

۲۰. د جګړې هیڅ لوري د جغرافیایي کنټرول په برخه کې کومه ځانګړې لاسته راوړنه نه درلوده. طالبانو د فراه، کندز، هلمند او کندهار ولایتونو په څیر د زیانمنیدونکو ولایتي مرکزونو په ګډون د ټرانسپورت پر کلیدي کرښو او ښاري مرکزونو خپل فشار جاري ساتلی. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د کلیدي لویو لارو د امنیت د خوندي کولو په پار د عملیاتو ترسره کول جاري ساتلي او د طالبانو لاسته راوړنې یې پر شا تمبولي، په ځانګړې ډول په جنوبي سیمو کې پر لشکرګاه او کندهار ښارونو د طالبانو تر بریدونو وروسته.

۲۱. دولت د راټلونکو ځواکونو د پروګرام له لارې د امنیتي سکتور اصلاحات جاري ساتلي. په دغو نوښتونو کې د افغان ملي ځانګړو عملیاتو قومانده، د مشرتابه ګمارنې، د افغان سیمه ییزو پولیسو منحل کیدل او د راتلونکو منابعو د شرایطو رامنځ ته کول شامل دي. د ولسمشر د لومړي مرستیال امر الله صالح په مشرتابه د امنیتي میثاق تطبیق په ۱۰ ښارونو کې دوام درلود. د یوه لومړیتوب په څیر په کابل کې په پخوانیو نوښتونو کې د جرمونو د کچې پر راکمولو او هغو هڅو تمرکز شامل و، چې د کابل په شا و خوا کې د چیک پوائنټونو مسولیت اردو ته د سپارلو له لارې په ښار کې د پولیسو حضور زیات کړي. په ټولو ولایتونو کې د امنیتي میثاق د تطبیق لپاره پلان جوړونې دوام درلود.

۲۲. د راپور ورکولو په موده کې د تیرې مودې د ۱۱ بریدونو په پرتله، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د مسوولیت منل شویو یا هغې ته د منسوب شویو بریدونو شمیر ۲۵ ته لوړ شوی. په داسې حال کې چې زیاتره پېښې د لغمان، کونړ او ننګرهار په ختیځو ولایتونو کې رامنځ ته شوي، نوموړې ډلې همدارنګه د نا انډولو تاکتیکونو په کارونې سره په ښاري سیمو کې د ولسي وګړو په نښه کول جاري ساتلي. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر کابل ښار د دوه راکیټي بریدونه مسوولیت پر غاړه واخیست چې لومړي هغه د نومبر پر ۲۱ هغه مهال رامنځ ته شو کله چې ۲۳ راکیټونه پر ګڼ میشتو سیمو ولګیدل او بل هغه یې د ډسمبر پر ۱۲ داسې مهال رامنځ ته شو کله چې ۴ راکیټونو د حامد کرزي پر نړیوال ډګر ولګیدل. نوموړې ډلې دغه راز د ډسمبر پر ۱۰ نېټه د جلال اباد په ښار کې پر یوې ښځینه ژورنالیستې او د ډسمبر پر ۲۲ او ۲۸ په کابل کې پر طبي کارمندانو او دولتي چارواکو د بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی.

۲۳. ملګرو ملتونو تر بیا کتنې لاندې مودې په اوږدو کې د تهدید د ۸ قضیو او ۱۲ جنایي پېښو په ګډون، ۲۷ داسې پېښې مستندې کړي چې د نوموړي سازمان کارمندان یې اغیزمن کړي. د ملګرو ملتونو یو کارمند وتښتول او بیرته راخوشې شو، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ساتنې لپاره ځانګړی شوي د ساتنې د خدمتونو د افغان ریاست یو ټیم چې له جلال اباد څخه کابل ته پر لار د ملګرو ملتونو د کاروان ساتنه یې کوله تر برید لاندې راغی، چې له امله یې د نوموړي ریاست پنځه کارمندان ووژل شول.

## ج: سیمه ییزه همکاري

۲۴. د سیمه ییزې او اقتصادي همکارۍ او د زیربنایي اتصال د غښتلي کولو هڅو دوام درلود. د نومبر پر ۱۰ نېټه، د شانګهاي د همکارۍ سازمان په آنلاین سرمشریزه کې ښاغلي غني په ډاګه کړه چې د سازمان په داخل کې یوه پیاوړې اجماع به افغانستان د دې وړ کړي چې د سولې د رامنځ ته کولو په تړاو یوې هوکړې ته ورسیږي. ښاغلي غني د سازمان له غړو او څارونکو سره له تروریزم او نشه یي توکو سره د مبارزې په برخو کې د خپل هیواد د همکارۍ د پراخولو وړاندیز وکړ. ګډونوالو په افغانستان کې د سولې له روانو هڅو سره خپل ملاتړ په ډاګه کړ او د دې یادونه یې وکړه چې زیات ټیکاو به د ټرانسپورټ د نویو بندرونو د پرانستلو لپاره لار هواره کړي چې مرکزي اسیا به له سویلي هغې سره نښلوي.

۲۵. د نومبر پر ۱۹ نېټه، د پاکستان صدر اعظم عمران خان له کابل څخه لیدنه وکړه، چیرې چې هغه له ښاغلي غني او نورو لوړ پوړو چارواکو سره ولید څو د افغان سولې پروسې، دوه اړخیزو اړیکو، کډوالو، سوداګرۍ، ترانزیت او نورو دوه اړخیزو موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ښاغلي خان دوي ته د دې ډاډ ورکړ چې پاکستان به د امکان تر حده هره شونې چاره ترسره کړي څو په افغانستان کې تاوتریخوالی راکم کړي. دواړه خواوې په دواړو هیوادو او په پراخه کچه په سیمه کې د سولې او ټیکاو د ملاتړ په پار د یوه ګډ لید لورې په رامنځ ته کولو یوې هوکړې ته ورسیدل.

۲۶. افغانستان او د ایران اسلامي جمهوریت د یوه هر اړخیز مشارکت د تړون په اړه د لوړې کچې سلا مشورې جاري ساتلي. د نومبر پر ۱۵ نېټه د افغانستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر میرویس ناب له تهران څخه لیدنه وکړه څو د پنځم دور مذاکرات ترسره کړي. د ډسمبر پر ۱۱ نېټه، د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو مرستیال وزیر عباس عراقچي له کابل څخه لیدنه وکړه. د ډسمبر پر ۲۲ نېټه د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب له تهران څخه لیدنه ترسره کړه څو په افغانستان کې د امنیتي وضعیت او دغه راز له هیواد څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۷. د ډسمبر پر ۱۰ نېټه په آنلاین مراسمو کې، ښاغلي غني او د ایران د اسلامي جمهوریت ولسمشر حسن روحاني د ۲۲۵ کیلو متره اوږدې د اور ګاډي پټلۍ لومړۍ درې برخې پرانیستې کومه چې د ایران په خراسان رضوي ولایت کې د خاف ښار په افغانستان کې له هرات ښار سره نښلوي. په ورته ورځ د افغانستان د اور ګاډي د پټلۍ ادارې په هرات ولایت کې له روزانک څخه تر روباط پاریان پورې د وروستې برخې جوړول پیل کړل.

۲۸. د جنوري پر ۸ او ۹ نېټه، د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر رشید میردوف له افغانستان څخه لیدنه ترسره کړه چیرې چې هغه له ښاغلي غني، او د بهرنیو چارو له وزیر محمد حنیف اتمر سره ولیدل، څو د افغان سولې پروسې او د دوه اړخیزو اړیکو د پراخولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ښاغلي میردوف څرګنده کړه چې عشق اباد ژمن دی څو له افغانستان سره په سیاسي، اقتصادي او سیمه ییز اتصال په برخو کې همکاري وکړي او د افغان سولې بریالۍ خبرې اترې د سولې د پورته یاده پروسې او د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا لپاره اساسي ګڼي. د جنوري پر ۱۴ نېټه، ښاغلي غني او ترکمنستان ولسمشر بیردي محمدوف درې زیربنایي پروژې پرانیستې چې هدف یې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو غښتلي کول و. په دغو پروژو کې د ۳۰ کیلو متره اورګاډي پټلۍ، د بریښنا د لیږد مزی او د فایبر نوري مخابراتي مزو غځول شامل دي.

۲۹. د جنوري پر ۱۳ نېټه، د هندوستان د ملي امنیت سلاکار اجیت دیول له کابل څخه لیدنه وکړه او ښاغلي غني سره یې ولیدل څو له تروریزم سره د مبارزې د همکارۍ او هغو هڅو په اړه خبرې اترې ترسره کړي چې د افغان سولې پروسې په ملاتړ سیمه ییزه اجماع رامنځ ته کړي. ښاغلي دیول د افغانستان له اساسي قانون او ډیموکراتیکو لاسته راوړنو سره د خپل هیواد د دوامدارې همکارۍ او ملاتړ د ژمنتوب ډاډ ورکړ.

۳۰. د جنوري له ۱۹ تر ۲۲ نېټې پورې، ښاغلي اتمر له سعودي عربستان څخه لیدنه وکړه چیرې چې هغه د بهرنیو له وزیر شا فیصل بن فرهان السعود؛ د اسلامي همکاریو د سازمان له عمومي منشي یوسف بین احمد العثیمن؛ او د خلیج د همکارۍ د شورا له عمومي منشي نایف فلاح الحجرف سره ولیدل. ویناوالو د افغانستان د جګړې د سیاسي حل په ملاتړ کې د اسلامي عالمانو رول څرګند کړ.

۳۱. د جنوري له ۳۰ د فبروري تر ۳ پورې، ښاغلي اتمر د دوه اړخیزو اړیکو د پراخولو لپاره د لوړې کچې د یوه پلاوي مشري کوله. هغه دغه راز د افغانستان، پاکستان او ازبکستان په یوه درې اړخیزه ناسته کې ګډون وکړ چې موخه

يې د سيمه ييز اتصال غښتلي کول، د سوداګرۍ او ترانزيت پراخول او سيمه ييزې همکارۍ ته وده ورکول و. استازو له مزار شريف څخه د کابل له لارې تر پېښور، پاکستان پورې د اورګاډي د پټلۍ پروژې د تطبيق لپاره يوه لار نقشه لاسليک کړه.

## دريېم. بشري حقونه

۳۲. په ۲۰۲۰ کال کې، ولسي وګړو د وسله والې جګړې د زيان ګالل جاري ساتلي، څرنګه چې په افغانستان کې د ملکي وګړو د ساتنې په کلني راپور کې مستند شوي کوم چې د يوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کميشنر د دفتر له خوا د فبروري پر ۲۳ نېټه خپور شو. يوناما په ۲۰۲۰ کال کې ۸۸۲۰ ملکي تلفات (د ۳۹۰ ښځو او ۷۶۰ ماشومانو په ګډون، ۳۰۳۵ مړه؛ او د ۷۵۶ ښځو او ۱۸۵۹ ماشومانو په ګډون، ۵۷۸۵ ټپيان) مستند کړي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۵ سلنه کموالی وړاندې کوي، چې په عمده ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د ترسره شويو ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو او د نړيوالو نظامي ځواکونو د هوايي بريدونو له امله د کم شمير ملکي تلفاتو په پايله کې رامنځ ته شوی. خو له دې سره سره، يوناما د دولت عناصرو له خواد د هدفي وژنو، د طالبانو د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو د فشاري مانينو، او د افغان هوايي ځواک د هوايي بريدونو له امله په ملکي تلفاتو کې زياتوالی مستند کړی. د ۲۰۲۰ کال په وروستۍ ربع کې، په ۲۰۱۹ کې د ورته مودې په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۴۵ سلنه زياتوالی مستند کړی.

۳۳. په ۲۰۲۰ کال کې، زياتره ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو (۶۲ سلنه) په تيره بيا د طالبانو (۴۵ سلنه)، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې (۸ سلنه) او نا معلومو دولت ضد عناصرو (۹ سلنه) له خوا اړول شوي. د ټولو ملکي تلفاتو يوه ربع دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي چې زياتره يې د افغان ملي امنيتي ځواکونو (۲۲ سلنه)، او په تعقيب يې نړيوالو نظامي ځواکونو، دولت پلوه وسله والو ډلو، او نا معلومو يا ګډو دولت پلوه ځواکونو له خوا اړول شوي. ځمکنۍ د ښکېلې مخکښ نوعيت و چې تر ټولو زيات ملکي تلفات (۳۶ سلنه) يې رامنځ ته کړي چې تر هغې وروسته ځای پر ځای شوي انتحاري او غير انتحاري چاوديدونکې وسيلې (۳۴ سلنه)، هدفي وژنې (۱۴ سلنه) او هوايي بريدونه (۸ سلنه) د ولسي مرګ ژوبلې مخکښ لاملونه ګڼل کيږي.

۳۴. وسله والې جګړې ماشومانو ته د جدي تلفاتو اړول جاري ساتلي. د ۲۰۲۰ کال د څلورمې ربع په اوږدو کې، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په ضد د جدي سرغړونو د څارنې او راپور ورکونې هيوادني کاري ځواک د ماشومانو د ۷۲۹ تلفاتو (د ۶۷ نجونو او ۱۲۹ هلکانو په ګډون، ۱۹۶ مړه؛ او د ۱۷۲ نجونو او ۳۶۱ هلکانو په ګډون، ۵۳۳ ټپيان) په ګډون چې د ۲۰۲۰ کال په څلورمه ربع کې تاييد شوي، د ۷۷۰ ماشومانو (۵۲۶ هلکان او ۲۴۴ نجونې) په وړاندې ۸۳۷ شديدې سرغړونې تصديق کړې. دولت ضد عناصر (۳۶۵) د دولت پلوه ځواکونو (۲۲۷) په پرتله د زيات شمير د ماشومانو د تلفاتو مسوول ګڼل کيږي. ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د ۲۶۴ تلفاتو (۷۰ مړه او ۱۹۴ ټپيان) په درلودو لا اوس هم د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل شميرل کيږي چې د عمومي ټولټال نږدې ۳۶ سلنه جوړوي.

۳۵. هيوادني کاري ځواک د تيرې ربع د ۱۱۹ په پرتله د طالبانو (۲۵)، د افغان سيمه ييزو پوليسو او دولت پلوه مليشو له خوا له خوا (۸) د ۳۳ ماشومانو (ټول هلکان) ګمارنه او کارونه تاييد کړې. نوموړي کاري ځواک د طالبانو (۱۱) او د دولت پلوه مليشو (۱) له خوا د ۱۲ ماشومانو (۸ هلکان او ۴ نجونې) تښتونه تاييد کړې. له ۱۲ تښتول شويو ماشومانو څخه ۱ يې وژل شوی، ۱۰ خوندي خوشې شوي او ۱ لا اوس هم د دولت پلوه مليشو په حراست کې دی. هيوادني کاري ځواک پر ښوونځيو ۱۷ بريدونه تاييد کړي چې د پخوانۍ ربع (۲۵) په

پرتله کموالی په ډاګه کوي، او دغه پېښې طالبانو (۱۱)، افغان ملي اردو (۲)، نا معلومو وسله والو مخالفو ډلو (۲) او د وسله والو مخالفو ډلو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د عملیاتو پر مهال د ډزو تبادلې (۲) منسوبوي. پر روغتونونو بریدونه درې برابره زیات شوي چې په تیره ربع کې د ۱۳ تایید شویو هغو په پرتله پر روغتونونو او روغتیا اړوند کارمندانو ۳۹ بریدونه تایید شوي. یو دیرش یې طالبانو، شپږ یې د طالبانو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړې، یو دولت پلوه ملیشې، او یو د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي.

۳۶. یوناما د ۲۰۲۰ کال له نومبر څخه د ۲۰۲۱ کال تر جنوري پورې د قتل د ۱۰ قضیو، د جنسي تیري د ۱۴ قضیو، د وهلو او ټکولو د ۲۲ قضیو، د ځورونې د ۱۱ قضیو، د اجباري ازدواج د ۸ قضیو، د اجباري ځاني ژوبلې یا ځان وژنې د ۸ قضیو، د ماشومانو د ازدواج د ۷ قضیو، او د تېې کیدو یا معلول کیدو د ۶ قضیو په ګډون، د ښځو او نجونو په ضد د تاوتریخوالي ۸۶ قضیې مستندې کړې.

۳۷. د نومبر پر ۲۵ نېټه، یوناما د ښځو په ضد د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د نړیوالې ورځې د لمانځلو او د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي په ضد د ۱۶ ورځني کمپاین د پیلولو په پار د پوهاوي د لوړولو د اوو ناستو کوربه وه. په ډسمبر میاشت کې، یوناما د نوموړي کمپاین په ملاتړ نهه نور مراسم ترسره کړل، په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د ښځو د ملاتړ اداري (UN-Women) په ۲۷ ولایتونو کې د ښځو د حقونو د ۵۲ فعالینو او ادارو د ملاتړ له لارې له ۲۲۰۷۴ خلکو سره ګډون کړی او دغه راز یې د تاوتریخوالي او د جنډر د برابرۍ په اړه ۵۶۸ راډیویي پیغامونه خپاره کړي. د ډسمبر پر ۷ نېټه، یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د *ښځو او نجونو په ضد د تاوتریخوالي جرمونو لپاره د عدالت په لټه کې*، ګډ راپور خپور کړ. د تاوتریخوالي په راپور شویو قضیو کې د عدلي سیستم له خوا د غبرګون او برابر شوي جبران په ارزولو سره، د راپور لیکوالانو موندلې چې عدلي سیستم لا اوس هم ښځو او نجونو ته په زیاتو برخو کې د عدالت په برابرولو کې پاتې راغلی.

۳۸. دولت هم د پورته یاد شوي ۱۶ ورځني کمپاین د ملاتړ په پار یو شمیر چارې ترسره کړې، چې د ښځو په ضد د تاوتریخوالي په اړه د ښځو د چارو د وزارت او د لومړي ځل لپاره د لوی څارنوالۍ له خوا راپورونه خپاره شول. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یو راپور خپور کړ کوم چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د قضیو په شمیر کې ۱۱ سلنه کموالی ثبت کړی، چې عدلي ارګانونو ته د لاس رسي په ترلاسه کولو کې ننګونې منعکسوي لکه ناوړه امنیتي وضعیت او د کوویډ-۱۹ وبا له امله پر خوځښت رامنځ ته شوي محدودیتونه.

۳۹. د فبروري پر ۳ نېټه، یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان دولت په حراست کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه خپل شپږم راپور خپور کړ. له هغو کسانو سره چې د امنیتي او تروریزم اړوند جرمونو له امله له ازادۍ محروم شوي د ۶۵۶ مرکو پر بنسټ، راپور په ډاګه کوي چې د شکنجې تورونه معمول دي او دا چې په پراخه کچه د توقیفیان طرز العملي/اجرایي حقونو له پامه غورځول کیږي. په داسې حال کې چې د شکنجې د له منځه وړلو لپاره د دولت له خوا په ځانګړي ډول د ملي امنیت د ریاست او د لوی څارنوالۍ د شکنجې د منع کمیټې د ترسره شویو هڅو قدرداني کوي، راپور د قانون تنفیذوونکو چارواکو لپاره د ظرفیت، منابعو او روزنې د غښتلې کولو پر اړتیا ټینګار کوي.

۴۰. د بشري حقونو مدافعین او د رسنیو کارمندان له زیاتو امنیتي ګواښونو سره مخ شوي. د راپور ورکولو په موده کې، په کابل او کاپیسا ولایتونو کې د نا معلومو عاملینو له لورې د بشري حقونو درې مدافعین په دریو جلا جلا بریدونو کې وژل شوي. یو بل یې په بغلان ولایت کې د پولیسو په موټر پورې نښلول شوي د چسپکي ماین په

چاودنه کې ټپي شوی. د بشري حقونو اته مدافعین د نا معلومو عاملینو له خوا تهدید شوي؛ ۱۳ نور یې په بامیانو ولایت کې د دولت له خوا نیول شوي او تر درېو ورځو وروسته بیرته خوشې شوي. د مدني ټولنې یو فعال په کابل کې د افغان ملي پولیسو له خوا ونیول شو او یوه وروسته بیرته خوشې شو، د ادعاوو له مخې نوموړی د قومي مشرانو د شکایت پر بنسټ نیول شوی و.

۴۱. یوناما د راپور ورکولو په موده کې په ننګرهار، غزني او غور ولایتونو کې په درېو جلا جلا بریدونو کې د درېو ژورنالیستانو او د رسنیو د یوه کارمند وژنې ثبتې کړي چې د یوې مسوولیت یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی، او درې نور یې په درېو جلا جلا بریدونو کې چې مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی، ټپیان شوي (دوه په کابل او یو په فاریاب کې). په اتو ولایتونو کې دیارلس ژورنالیستان ګواښل شوي (چې اوو یې طالبانو ته منسوب شوي) او د ادعاوو له مخې دوه نور د قانون د نافذوونکو له خوا تهدید شوي. په کندز ښار کې پر یوه راډیو سټېشن د موسیقۍ د خپرولو له امله د یوې ډلې خلکو له خوا برید وشو. د ادعاوو له مخې د طالبانو له خوا په نیمروز ولایت کې یوه بل راډیو/تلویزیون سټېشن ته د انګیرل شوې مغرضانه راپور ورکونې له امله ګواښ شوی.

۴۲. په یوه ځانګړي راپور کې چې د فبروري پر ۱۵ نېټه خپور شو، یوناما د ۲۰۲۰ کال په وروستۍ ربع کې په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستان او رسنیو د کارمندانو په عمدي وژنو کې زیاتوالی ملاحظه کړی. دغو پېښو، چې زیاتره له مسولیت منلو پرته پاتې دي، په ټول هیواد کې د مدني ټولنې د فعالینو ترمنځ د نا امنۍ پراخ احساس رامنځ ته کړی، چې دغه حس ټولنیزو رسنیو کې د جنوري پر ۴ نېټه د یوه نا معلوم لوري له خوا د "هدفي لیست" تر را ښکاره کېدو او خپرېدو لا پسې ناوړه شوی. د ډسمبر پر ۱ نېټه، د ولسمشر د یوه فرمان پر بنسټ د بشري حقونو د مدافعینو د ساتنې یو ګډ کمیسیون رامنځ ته کړ، چې مشري یې د ولسمشر د دویم مرستیال له خوا کیږي.

۴۳. یوناما د سولې، بشري حقونو او پر قرباني د متمرکز عدالت اړوند موضوعاتو په برخه کې د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره خپل ملاتړ جاري ساتلی. د ډسمبر پر ۱۰ نېټه، یوناما د قربانیانو په ملي کنوانسیون کې ګډون وکړ، چې د مدني ټولنې له خوا په کابل کې تنظیم شوی و.

## څلورم. د پرمختیایي مرستو همغږي

۴۴. د افغانستان حکومت، یوناما او نړیوال بانک د مرستندویه هیوادونو سره په مشارکت کې د همغږۍ هڅې په ګډه سره رهبري کړې ترڅو د یو شفاف نظارت او بیاکتنې میکانیزم پلي کولو لپاره ګامونه په ګوته کړي چې د اصولو، د پایلو شاخصونو او لومړیتوبونو اهدافو پرواړندې پرمختګ تعقیب کړي کوم چې د افغانستان د مشارکت په چوکاټ کې بیان شوي دي. د یاد چوکاټ د پلي کیدو د څارنې او تسهیل کولو لپاره د رهبري یوه ډله او کاري ځواک رامنځ ته شو، چې د ۲۰۲۱ کال د نومبر په میاشت کې به د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې کلنۍ بیاکتنې ته وړاندې شو. د کاري ځواک لومړۍ ناسته د فبروري په ۱۱ کې ترسره شوه. د مالیې وزارت، یوناما او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام ترمنځ د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ دویم نسخې لپاره د پایلو چوکاټ او نظارت سیستم په اړه بحثونه پیل شول.

۴۵. د اداري فساد د قضيو د عدلي تعقيب په اړه د شراطو په سختولو سره، افغانستان د مشارکت چوکاټ معيارونو د پوره کولو په موخه کرڼې ګرندۍ شوې. د نومبر په وروستيو کې، عدلي تعقيب بهير دګرندي کولو لپاره د اداري فساد پروړاندې د عدلي او قضايي مرکز يو کاري پلان غوره کړ. د دسمبر له ۱ څخه فبروري تر ۱۴ نيټې پورې، ۹ قضيې په په ابتداييه محکمه کې او ۱۰ قضيې د استيناف په کچه طی مراحل شوې. د فبروري په ۶ نيټه، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې عدلي او قضايي مرکز ابتدايي محکمې د مشرانو جرګې درې غړي د اداري فساد په تور محکوم کړل او هر يو يې په ۱۰ کلونو او ۱ مياشت حبس او نغدي جريمې محکوم کړل. د جنوري په ۲ نيټه، د سترې محکمې يوه ځانګړې محکمې د کانونو او پطروليم پخواني وزير وحيدالله شهراني د واک څخه د ناوړه ګټه اخيستنې په تور، په يو کال او يوه مياشت حبس او د پيسو بيرته راستنولو باندې محکوم کړ.

۴۶. د نړيوالو شريکبانو په همکارۍ، يوناما د لوی څارنوالۍ دفتر تشکيل او صلاحيت په قانون کې د تعديلاتو مسودې تدوينولو لپاره تخنيکي ملاتړ وړاندې کړ، چې هدف يې د لوی څارنوالۍ د خپلواکۍ پياوړتيا او د څارنوالانو په مقرريو کې د وړتيا پر اساس د عناصرو پياوړي کول دي. د نومبر په ۱۲ نيټه، ولسمشر د اداري فساد پروړاندې د نوي کميسيون پنځه کميشنران وټاکل چې د ياد کميسيون د کار د پيل کيدو سبب شو. ياد کميسيون د اداري فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکه ګډه کميټه، له اداري فساد سره د مبارزې ځانګړې سکرټريت او د شتمنيو د ثبت او تثبت اداري په ګډون د موجودو ادارو کارمندان او سرچينې په خپل جوړښت ادغام کړل. د اداري فساد پر وړاندې قانون لا اوس هم د پارلمان لخوا د تصويب په تمه پاتې دی، مګر ياد قانون د ولسمشر تقنيني فرمان په توګه نافذ دی.

۴۷. دولت د سيمه ييزو ارګانونو د ظرفيت د پياوړي کولو او سيمه ييزه حکومتدارۍ ته وده ورکولو په خاطر تدابير پلي کولو ته دوام ورلړ. د راپور ورکولو دورې په جريان کې، د بدخشان، بلخ، جلال آباد، کندز او ارزګان واليتونو د ولسمشر لخوا د اکتوبر به ۴ نيټه صادر شوي د فرمان پلي کول پيل کړل چې ولسوالانو د اجراآتو د ارزونې امر په شوې و . د فبروري په ۱نيټه، د سيمه ايزې حکومتوالۍ خپلواکې ادارې د محلي اداري قانون مسوده د کابينې د بحث لپاره وړاندې کړه. ياد قانون په سيمه ايزه کچه د ادارو ترمنځ اړيکو ته وضاحت ورکړې او سيمه ييز پلان جوړونې او بوديجه جوړونې ته رسيدګې شوې.

۴۸. د جنوري په ۱۰ نيټه، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسيون په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د ملکي خدماتو ۱۲۲۹۱ خالي بستونو لپاره د ۲۰۲۰ کال د ډله ايزې ګمارنې کلنۍ ازموينې د ټول هيواد په کچه بشپړې کړې. ياد کميسيون د ۴۹۵ لوړ پوړو پوستونو لپاره د ګمارنې پروسه هم بشپړه کړه ترڅو د سرپرست کارمندانو ځای ونيسي، په کوم کې چې ميرمنې يې شاوخوا ۳۰ سلنه تشکيلوي. د جنوري په ۱۳ نيټه، ياد کميسيون خپل د ملکي کارمندانو د کړنو د ارزونې نوی سيستم په لاره واچاو چې پدې کې د کار په ځای کې د ځورونې مخنيوي او خلکو ته د عامه معلوماتو د لاسرسي برابرولو په اړه، احکام شتون لري.

۴۹. لکه څنګه چې د کوويډ-۱۹ وبا اغيز د افغانانو په ژوند باندې داوم پيدا کړ، ملګرو ملتونو د کوويډ-۱۹د واکسين ملاتړ لپاره د "ملګرو ملتونو" يو واحد پلان رامنځته کړ او يو مشترک کاري ځواک يې رامنځته کړ ترڅو د دولت د واکسين د برنامې پلان کولو او پلي کولو لپاره د ملاتړ ساحې په ګوته کړي.

۵۰. د افغانستان لپاره د اروپايي اتحادې او ملګرو ملتونو د سپاتلايت په نامه ابتکاری پروګرام د فبرورۍ په ۱نيټه د رسمي پيل څخه مخکې، اروپايي اتحادي، ملګري ملتونو او د افغانستان حکومت په مشترک کوربه توب د ښکيلو خواوو لومړۍ ناسته ترسره شو چې تمويل کوونکو، دولت او د مدني ټولنې استازو پکې برخه اخيستې وه. د يادونې

وړ ده چې یاد پروګرام د مشارکت یو ځو کلن پرواګرام ده چې هڅه کوي تر ۲۰۳۰ پورې د ښځو او انجونو په وړاندې د هر ډول تاوتریخوالي له منځه ویسي. همکار وزارتونه (د ښځو چارو، معارف، روغتیا ، حج او مذهبي چارو) او د ملګرو ملتونو پلي کونکي اداري (د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره، د نفوس په چارو کې ملګرو ملتونو اداره، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق او د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام) په افغانستان کې د څو اړخیزې کړنلارې له لارې د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي ته د رسیدګې په موخه کارى برنامه وړاندې کړه.

**پنځم. بشردوستانه مرستې**

۵۱. د روان تاوتریخوالي، طبیعي پېښو او په لوړه کچه د خوړو د نه خوندیتوب له امله چې د کووېډ-۱۹ له وبا سره مله دي، په افغانستان کې د بشري مرستو اړتیاوې مخ پر لوړېدو وې. شاوخوا ۱۸.۴ میلیونه خلک، یا د افغانستان نږدې نیم نفوس، په ۲۰۲۱ کې بشري مرستې ته اړتیا لري، حال دا چې د ۲۰۲۰ په پیل کې کابو ۹.۴ میلیونه خلکو یادو مرستو ته اړتیا درلوده . د دسمبر د ۵مه تر ۱۱مه نیټې پورې، د بشري چارو لپاره د سر منشي مرستیال سرپرست او د اضطراري مرستو د همغږیکونکي مرستیال د کابل او کندهار څخه لیدنه وکړه ترڅو د ډراماتیک ډول د مخ په لوړېدو اړتیاو ته پاملرنه راجلب کړي.

۵۲. د فبروري تر۱۳ نیټې پورې، په ټول افغانستان کې له ۵۵۰۰۰ څخه ډېر خلک د کووېډ-۱۹ په ناروغۍ اخته شوي و، مګر انګېرنه دا وه چې د اخته کسانو واقعي شمیر ډیر لوړ و. د روغتیا او تغذیې معلوماتو ښودلې چې ناروغانو لومړني روغتیایي خدمات نه ترلاسه کول ځکه چې پر سیسټم له حد څخه زیات فشار و، او ډیری خلک د یاد ویروس د اخته کیدول د ډار له امله روغتیایي مرکزونو ته د مراجعې څخه ډډه کوله.

۵۳. د ۲۰۲۰ کال د مارچ په میاشت کې په افغانستان کې د ناروغۍ له پیل راهیسې، د بشري مرستو کار کونکي د کووید-۱۹ځانګړې مرستې تر ۷.۷ میلیونه خلکو ته ورسولې. په یاد مرستو کې لاندې موارد شامل وو: د ۱۵ لابراتوارونو په رامنځته کولو کې مرسته؛ د ګوزڼ ځارنې د ۳۴۰۰۰ تنو رضاکارانو استول ترڅو قضیه شناسایي کړي او د لومړني تماس ردیابۍ پورې اړوند فعالیتونه ترسره کړي؛ په ټول هیواد کې د ۴۰ میلیونه واحدونو څخه ډیر محافظتي تجهیزات روغتیایي چمتو کونکو او د لومړۍ لیکې مرستې کارمندانو ته وړاندې کول؛ د ناروغۍ مخنیوي او کنټرول اقداماتو کې د ۲۲۰۰۰ څخه زیاتو روغتیایي کارکونکو ته روزنه؛ په دخولي دروازو کې له ۴.۶ څخه د زیاتو خلکو سکرین (screen) کول؛ ۳.۳ میلیونه خلکو ته د اوبو او روغتیا ساتنې مرستې چمتو کول؛ او ۴.۷ میلیون خلکو ته د کووید-۱۹ په اړه د پوهاوي لوړولو فعالیتونو وړاندې کول.

۵۴. د نومبر د ۱۵ نیټې او ۱۳ فبروري ترمنځ ، صحي شریکباڼو د ۳۴۵۰۰ څخه زیاتو خلکو ته طبي مرستې ورسولې، چې ۵۲ سلنه یې ښځې او انجونې وې. د راپور ورکولو موده کې د روحي صدماتو د پیښو شمیر د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله نږدې ۱۲ سلنه لوړ و.

۵۵. په ۲۰۲۰ کې، د ګوزڼ ۵۶ قضیې تایید شوي، حال دا چې په ټول ۲۰۱۹ کې ۲۹ قضیې تایید شوې وې. ډیری قضیې په هغو سیمو کې پیښې شوي چیرې چې د کور په کور د واکسین کمپاینونه د ۲۰۱۸ کال د مې د میاشتې راهیسې منع شوي و. د ګوزڼ ناروغۍ اوس ۱۴ ولایتونو ته خپره شوی، چې د خلکو په منځ کې د معافیت کمیدل په ګوته کوي. د ځنګلي ګوزڼ ویروس سربیره ، افغانستان د ګوزڼ ویروس دویم ډول یې سرایت هم تجربه کړ وروسته له هغه چې په پاکستان کې د یاد ګوزڼ پیښې رامنځته شوې، چې په پایله کې یې ۳۰۳ تایید شوي قضیې په ۲۰۲۰شتون درلود.

۵۶. افغانستان د خوراکي توکو د نه خوندیتوب له جدي ناورین سره مخ دی چې د فقر او کوویډ-۱۹ وبا په واسطه رامنځته شوی. د ۲۰۲۱ کال تر مارچ میاشت پورې، په اظطراری کچه کې د ۵.۵ میلیون خلکو په ګډون، تمه کیږي چې ۱۶.۹ میلیون خلک د خوراکي توکو د نه خوندیتوب "ناورین" او "اضطراري" کچې ته ورسېږي، چې په نړۍ کې ترټولو لوړه شمیره ده تقریبا ۲ د ۵ کالو څخه لږ عمر لرونکي ماشومانو کې ۱ به په ۲۰۲۱ کې د شدیدې خوار ځواکې سره مخ وي. د نومبر د ۱ او جنوري ۳۱ ترمنځ، ملګرو ملتونو او شریکانو یې د خوراکي ناامنه نږدې ۳.۴ میلیون خلکو ته د ۱۵۶۰۰ ټنه څخه ډېر خواړه چمتو کړي او د ۹۵۴۰۰۰ څخه ډېرو متاثره شویو خلکو ته د معیشت مرستې ملاتړ برابر کړ. د خوراکي توکو د نه خوندیتوب ناوړه حالت ممکن نور هم خراب شي ځکه چې د کم ورښت ډېر احتمال شتون لري او د لانینا هوا پیښې له امله لوړه تودوخه به په هیواد اغیزه واچوي.

۵۷. په ۲۰۲۰ کال کې د بې سنده راستنیدونکو خلکو ترټولو لوړ کلنۍ شمیر ثبت شو، په کوم کې چې ۸۶۵۷۰۳ خلک د هیواد له سرحدونو څخه بیرته راستانه شوي دي. د کوویډ-۱۹ ناروغۍ او اړوند محدودیتونو، روغتیا پاملرنې ته محدود لاسرسی او اړونده خرابیدونکي اقتصادي وضعیت له امله، اکثریت هغه (۸۵۹۰۹۲) د ایران د اسلامي جمهوریت څخه راستنه شول. په ۲۰۲۰ کال کې ۲۰۳۰ نور کډوال له ګاونډیو هیوادونو څخه هیواد ته راستانه شول. د ملګرو ملتونو د مهاجرینو عالي کمیشنر د نومبر له ۱۴ څخه تر ۱۸ پورې د افغانستان څخه لیدنه وکړه، او د نړیوالې پیوستون او همداشان په سیمه کې د کډوالو کوربه هیوادونو څخه د ملاتړ غوښتنه وکړه. د نومبر د ۱۵ او د فبروري ۴ په منځ کې، ۱۸۸۱۹۳ بې سنده افغانان د ایران او پاکستان له اسلامي جمهوریت څخه راستانه شول. په ۲۰۲۰ کال کې ټول ټال، ۱۱۲۵۸افغانان له ترکیې څخه وشړل شول.

۵۸. په ۲۰۲۰ کې، ۴۰۰۵۹۳ خلک د شخړو له امله بې ځایه شوي وو. د نومبر د ۱۵ او ۱۳ فبروري ترمنځ، ۲۴۰۰۰ خلک د داخلي شخړو له امله نوي بې ځایه شوي وو. د نومبر څخه د فبروری تر نیمایي پورې، ملګرو ملتونو او شریکانو یې د ۳۱۰۰۰ څخه ډېر زیان منونکي خلکو ته چې د سخت اقلیم، شخړې او طبیعي پیښو لخوا اغیزمن شوي و، بیړني سرپناه، د کور توکي، د ژمي مرستې او اړوند نغدي مرسته چمتو کړې.

۵۹. د نومبر څخه تر فبروري پورې ، د ماین پاکې اداري او شریکانو یې ۱.۷۴ کیلومتره ځمکه د لوړ تاثیر کونکي چاودیدونکو توکو څخه پاکه کړه، چې په ترڅ کې یې د ۵۰ څخه ډېر چاودیدونکو توکې په خوندي ډول لرې کړل، چې له امله یې ۳۲ ټولنو ته ګټه ورسوله. سربیره پردې، د راپور ورکولو په جریان کې په افغانستان کې، ۱۵۰۷۹۵ تنو د چاودیدونکو توکو د خطر په اړه معلومات ترلاسه کړل.

۶۰. د پراخې ناامنۍ له امله بشردوستانه مرستو ته لاسرسي لاهم ننګونو سره مخ و، چې د ۲۰۲۰ تر پایه پورې د ۱۰۰۰ څخه زیاتې د لاسوهنې او مداخلې پیښې راپور شوې، چې د ۲۰۱۹ په پرتله ۱۴۶ سلنه ډیروالې په کې راغلې و. یادو پیښو په منظم ډول مرستې ځنډولې او د زیان منونکو خلکو رنځ دوام پیدا کړ. د ۲۰۲۱ کال د جنوري له ۱ نیټې راهیسې، د بشرپالنې کارمندانو د لاسرسي پورې اړوند ۲۱۰ پیښې راپور کړې، چې د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله ۱۶۵ سلنه ډیروالې راغلې. د نومبر ۱۲ او فبروري ۱۳ ترمنځ، ۹ مرستندوی کارګران وژل شوي، ۱۲ ټپیان شوي او ۲۱ تښتول شوي و.

۶۱. نړیوال هوايي پُل، د ۱۰۹۷ مسافرینو لیږدولو وروسته، خپل عملیات د دسمبر په ۳۱ نیټه پای ته ورسول، کوم چې د ۲۰۲۰ په اپریل کې د ملګرو ملتونو د بشردوستانه هوايي خدماتو اداري لخوا رامنځته شوی و ځکه چې په

افغانستان کې نړیوال الوتنې د کوویډ-۱۹ وبا له امله په ټپه دریدلې وې. یاد خدمت ۲۱ځایونو ته په ټول افغانستان کې خپلو داخلې الوتنو ته دوام ورکوي.

۶۲. د ۲۰۲۰ کال بشردوستانه غبرګون پلان، د ۲۰۲۰ په پای کې یوازې ۴۹ سلنه تمویل شوی و، چې د ۵۷۳ میلیون ډالرو مالی کسر سره مخ شو او د پام وړ اړتیاوو ته رسیدګي ونشوه. د کال په پای کې، بشردوستانه سازمانونو شاوخوا ۱۱.۸میلیونه خلکو ته یو شمیر بشردوستانه مرستې په ټولو ۴۰۱ ولسوالیو کې برابرې شوې، حال تا چې هدف دا و چې ۱۱.۱ میلیونه خلکو ته یادې مرستې برابرې کړي. دغه چاره قسماً د لوړې کچې لاسرسي، ټیټ لګښت اضطراري فعالیتونو لکه د کوویډ-۱۹ خطر په اړه معلوماتي کمپاینونو له لارې لاسته راوړل شوی، او ډیری خلک د ټیټ مالي تمویل له امله د مرستې جامع کڅوړه نشو ترلاسه کولی. د ۲۰۲۱ کال د څو کلن پلان د بیاکتنې پراساس، د ۱.۳ میلیارد ډالرو غوښتنه شوې ترڅو ۱۵.۷ میلیون افغانانو ته بشري مرستې چمتو کړي. د فبروري تر ۱۴ نیټې پورې، د یاد پلان ۳ سلنه برخه تمویل شوی و.

### شپږم. نشه يي توکي

۶۳. د نومبر له ۱۵ څخه د فبروری تر ۱۵ پورې، په افغانستان کې د قانون پلي کونکو ادارو د مخدره توکو پروړاندې ۹۷۱ عملیات ترسره کړل چې په پایله کې یې ۶۳۲ کیلوګرامه هیرویینو، ۱۶۲۲کیلوګرامه تریاک، ۲۰۱۹۳۵کیلوګرامه چرس او د بنګو بوټي، ۴۸۷ کیلو ګرامه میتامفیتیمین، ۱۸۰ کیلوګرامه کوکنار، ۴۰۵ کیلو ګرامه امونیم کلوراېډ او ۱۵کیلو ګرامه میتیلینیډی آکسیفایتامین ضبط شوي دي. د هغو په پایله کې ۱۱۵۴ شکمن کسان ګرفتار او ۱۵۰ موټر او ۷۴ میله وسلې مصادره شوی. د دسمبر په ۱۸ نیټه، د مخدره توکو پروړاندې د پولیسو لوړ پوړو چارواکو او د افغانستان سرحدي ځواک د کندهار په هوایی ډګر کې د نشه يي توکو د له منځه وړلو واحد پرانیست. په نوې جوړ شوې واحد کې څلور ښځینه افسرانې شاملې دي.

۶۴. بزګرانو ته د تریاکو کښت په ځای د مشروع معیشت چمتو کولو لپاره د روانو هڅو د برخې په توګه، ملګرو ملتونو بدیل پرمختیایی فعالیتونه وړاندې کړل چې په پایله کې یې ۳۸۹۵ کروندګرو د ترویج خدمتونه ترلاسه کړل؛ د بزګرانو شپږ اتحادیې جوړې شوې؛ ۴۴۹۵ ښځو د څارویو پالنې او لبنیاتو پروسس کې وروزل شول؛ ۱۷۰۰ ښځې د چرګانو د فارم د مدیریت په برخه کې وروزل شوې؛ ۲۸۰ کروندګر د آفتونو او فصل له راټولولو وروسته د فصل مدیریت په برخه کې وروزل شول؛ په جوزجان او بدخشان ولایتونو کې د اوبو لګونې دوه جوړښتونه جوړ شول؛ د کوچني سوداګرۍ منځه ته راوړلو په برخه کې ۲۰ ښځې روزل شوې دي او ۲۴۰ ښځو مسلکي روزنه ترلاسه کړه.

### اووم. د ماموریت ملاتړ

۶۵. د دسمبر تر ۳۱ نیټې پورې، د ۸ سلنې، ۷ سلنې، ۳سلنې ، ۳سلنې د تصویب شویو کچو په پرتله، په یوناما کې په ترتیب سره د نړیوالو کارکونکو لپاره د تشو پوستونو کچه ۱۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۱۹، د داخلې مسلکي افسرانو لپاره ۸ سلنه و د داخلي کارکونکو لپاره ۳ سلنه وه. د نړیوالو کارکونکو لپاره ۳۶ سلنې، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره د ۴۵ سلنې او د داخلي مسلکي کارکونکو لپاره د ۱۴ سلنې او د داخلې کارکونکو لپاره د ۹ سلنې په درلودلو سره، د ښځینه کارکونکو د تناسب کچه ټیټه پاتې شوې.

۶۶. پداسې حال کې چې د کووید-۱۹ وبا په غبرګون کې د مهمو برنامو او فعالیتونو ترسره کول جاري ساتلي، د کار بدیل د ترتیباتو کارول دوام لري. د یوناما او د ملګرو ملتونو ادارو، صندوقونو او برنامو پریکړه کړې چې د دندې

په ساحه کې د خارجي کارکونکو او داخلي کارمندانو شمیر چې باید دفتر ته حاضر شي، زیات نکړي، د کووید-۱۹ په قضیو کې احتمالي بدلونونو په پام کې نیولو سره به د کارکونکو شمیر به په منظم ډول بیا تر غور لاندې راشي.

**اتم. ملاحظات**

۶۷. په وروستي مودې کې د ورو پرمختګ سره سره، زه ډیر خوښ یم چې د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو سوله ییز حل ته رسیدلو لپاره خپلې ژمنې په علني توګه بیا تکرار کړې. د یادې ژمنې ساتل مهم دي. زه په دواړو خواو غږ کوم چې د افغانستان د سولې خبرو اترو لپاره د اجنډا رامنځته کولو لپاره خبرو ته دوام ورکړي. زه له دواړو لورو څخه هم غوښتنه کوم چې له هر ډول تاوتریخوالي د زیاتولو څخه ډډه وکړي، کوم چې به د اضافي انساني کړاو لامل شي او د سولې پروسه باندې د خلکو باور له خطر سره مخامخ کړي. دواړه خواوې، په ځانګړې توګه طالبان باید د فوري تاوتریخوالي د بندولو لپاره د افغانانو غږ ته پاملرنه وکړي، چې د یوې عادلانه، پایښت لرونکې او ټول شموله سولې لامل وګرځي.

۶۸. د نړیوالې ټولنې دوامداره ملاتړ، په ځانګړې توګه د سیمې هیوادونو د افغانستان د سولې خبرو اترو لپاره د مناسب چاپیریال په رامنځته کولو کې لا اوس هم حتمي او لازمي دی. زه د غړو هیوادونو له خوا د سولې له پروسې څخه د ملاتړ ډیپلوماتیکې ښکیلتیا او د ګډ پیغام رسولو د اسانتیا لپاره د څو اړخیزو غونډو په کارولو د دوی لېوالتیا څخه هرکلی کوم. ملګري ملتونه به د سولې په لور په څو اړخیزو هڅو کې په فعاله توګه بوخت وي او د افغان ښکیلو خواوو په غوښتنه د وړاندیز شوي نوښتونو ملاتړ ته چمتو دی.

۶۹. د ښځو، ځوانانو، اقلیتونو، د جګړې قربانیانو او بې ځایه شوي خلکو په ګډون، د افغانستان ټول اړخونه باید د سولې په پروسه کې د برخه اخیستنې فرصت ولري. زه د ملي پخلاینې عالي شورا لخوا د خپل به جوړښت کې یې د څو کمیسیونونو د جوړېدو او د یادې شورا لخوا هڅې ترڅو د افغاني ټولنې بیلابیل عناصر تر پوښښ لاندې راولي، څخه هرکلی کوم. ډیر کار باید ترسره شي ترڅو د لوړ پوړې پریکړې کولو سره د محلي خلکو هڅو سره وصل شي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې د سولې هرډول تړون به د ټولې ټولنې لخوا ومنل شي. ملګري ملتونه به خپل کار ته دوام ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې، د ګوښه شویو ډلو په شمول، د ټولو اړوندو خواوو غږونه اوریدل کیږي.

۷۰. په ټولو کچو کې د ښځو بشپړ، مساوي او اساسي مشارکت به د سولې پروسې د بریا د ډاډ ترلاسه کولو لپاره اړین دي. لیکن، ښځې د خبرو اترو دواړه ټیمونو، او همدارنګه د ملي پخلاینې عالي شورا پشمول په کلیدي ارګانونو کې د پام وړ استازې توب نلري. زه له حکومت څخه په کلکه غوښتنه کوم چې د سولې په ټولو جوړښتونو کې د ښځو برخه اخیستنه زیاته کړي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د دوی نظریات څخه په پراخه کچه استازیتوب وشي. زه په ورته ډول په وسله والو طالبانو غږ کوم چې د سولې په جوړښتونو کې ښځې په معنی لرونکې ډول شاملې کړي ترڅو د دوی ګټې او اندیښنې د خبرو په میز کې انعکاس شي.

۷۱. د سولې د پروسې په پرمختګ سره د مدني ټولنې او رسنۍ رول ورځ تر بلې اړین کیږي. زه په افغانستان کې د هدفي وژنو وروستي بریدونو څخه په غوسه یم. دا ډول بریدونه ناقانونه دي او د ویرې فضا رامنځته کولو په موخه ترسره کیږي. یاد بریدونه د مدني فضا د لا محدود کولو خطر هم لري کله چې بحث او ډیالوګ خورا اړین وي. زه پر ټولو خواو غږ کوم چې دا ډول بریدونه سمدستي بند کړي. زه له دولت څخه غوښتنه کوم چې د دا ډول تاوتریخوالي عاملینو لپاره د معافیت پروړاندې مبارزه وکړي او د ملاتړ د ښه کولو لپاره ګامونه واخلي ترڅو د مدني ټولنې فعالین وکلای شي خپل رول په خوندي ډول او له ویرې پرته ترسره کړي. ملګري ملتونه د رسنیو

سکټور غړو، غیر دولتي ساحو، عامه سکتور او حقوقي چارو کسانو سره پیوستون ښيي څکه چې دوی د سولې په ملاتړ کې خپل حیاتي کار سرته رسوي.

۷۲. په افغانستان کې خرابیدونکي امنیتي وضعیت د ژورې اندیښنې وړ دی. ملکیان د شخړې پیټې په خپلو اوږو وړې. زه خواشینی یم چې د سولې پروسې تر دې دمه د ملکي وګړو لپاره شرایط نه دي ښه کړي، څکه چې یوناما د افغانستان د سولې د خبرو اترو له پیل راهیسې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالې ثبت کړې دې. زه له دواړو لورو څخه غوښتنه کوم چې د تاوتریخوالې د لا زیاتولو څخه ډډه وکړي او تاوتریخوالی پای ته ورسوي، ترڅو د خلکو ژوند وساتي او د خلکو باور خوندي شي. زه پر طالبانو غږ کوم چې د سړک د غاړې ماینونو کارول بند کړي، کوم چې د ملکي تلفاتو د زیاتوالي لامل شوي دي. زه د افغانستان پر حکومت هم غږ کوم چې د غیر مستقیم ډزو او هوایي بریدونو څخه د ملکي تلفاتو مخنیوي او کمولو لپاره هڅې دوه چنده کړي؛ د ملکي تلفاتو ثبت لا ښه کړي؛ او د حساب ورکولو د یقیني کولو لپاره پلټنې ترسره کړي.

۷۳. زه د افغانستان په توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند تورونو څخه په ژوره توګه ناراضه شوی یم، کوم چې د یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر(OHCHR) لخوا مستند شوي دي. شکنجه د انساني کرامت جدي بې حرمتي ده او د قربانیانو او کورنیو لپاره یې دوامداره پایلې لري. شکنجه په ټولنه کې کرکیچ لا زیاتوي او نوي شکایتونه رامنځته کوي، چې د ریښتیني پخلاینې احتمالات له ګواښ سره مخ کوي. زه له دولت څخه غوښتنه کوم چې د قانون پلي کونکو افسرانو د پوښتنو ګروېرنو تخنیکونو کې د اصلاحات په شمول، د شکنجې د له منځه وړو لپاره کوټلي ګامونه واخلي، تر څو توقیفانو شکلي حقونو تامین شي او د شکنجې او ناوړه چلند عاملین محاکمه شي. زه په دولت هم غږ کوم چې د اجباري لادرکه کیدو تورونه په مؤثره توګه تحقیقات ترسره کړي، ترڅو د اجباري لادرکه شویو کسانو سرنوشت او د اوسیدنې ځای معلوم کړي او مسؤلینو سره یې حساب او کتاب وشي.

۷۴. ښځې او ماشومان لاهم د خورا لوړې کچې تاوتریخوالي سره مخ دي. د جنډر پربنسټ تاوتریخوالي قربانیانو لپاره عدالت ته لاسرسی لا هم خورا ډیر ستونزمن دی. د کوویډ-۱۹ ناروغۍ له امله ګرځ بندیز د ښځو او ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي خطر ډیر کړی او د قربانیانو لپاره لاهم ستونزمن دې چې دولتي ادارو ته د تاوتریخوالي په اړه راپور ورکړي. زه له دولت څخه غوښتنه کوم چې د ښځو پروړاندې د تاوتر یخوالي د له منځه وړلو قانون پلي کول پیاوړي کړي، د پولیسو افسرانو، څارنواالنو او حقوقي مرستې شبکو لپاره اضافي سرچینې او روزنې چمتو کړي او د دې ډول جرمونو د کټګورۍ او ردیابۍ لپاره د قضیې مدیریت فعال سیستم پلي کړي. دولت باید ډیر څه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د ښځو او انجونو پروړاندې د تاو تریخوالي ادعاوې په فعاله توګه څېړل کیږي او عدلي تعقیب کیږي.

۷۵. زه په افغانستان کې د بشردوستانه اړتیاو له امله رنځیږم، چې بې سارې کچې ته رسیدلې. په افغانستان کې د خوراکي توکو نه خوندیتوب له "ناورین" یا "اضطراري" کچې د خلکو خورا لوړه شمیره په ځانګړې توګه دردونکې ده. زه د مرستندویانو څخه غوښتنه کوم چې د ۲۰۲۱ بشردوستانه غبرګون پلان ته وده ورکړي او مالی کمک ورکړي ترڅو افغانستان او بشردوستانه شریکانې یې په بیړني ډول د ژوند ژغورنې فعالیتونه تنظیم کړي. په ۲۰۲۰ کې د بشردوستانه به فعالیتونو کې د مداخلې زیاتوالي په پام کې نیولو سره، زه په ټولو خواو غږ کوم چې د بشردوستانه کارمندانو او تاسیساتو پروړاندې بریدونو څخه ډډه وکړي او د بشري فعالیتونو لپاره خوندي او بې مانع لاسرسي تامین کړي.

۷۶. د اداري فساد پروړاندې دوامداره پرمختګ به په دولتي نهادونو د خلکو باور رامنځته کولو او د تمویلوونکو د دوامداره ملاتړ ډاډ ورکولو کې مهم وي. زه د اداري فساد پروړاندې د مبارزې کمیسیون فعاله کولو په لاره کې د مهم ګامونو هرکلی کوم، چې د اداري فساد پروړاندې د قانون تصویبولو سره د یاد کمیسیون کار نور هم پیاوړې کیدای شي. د اداري فساد پروړاندې د عدلي او قضایي مرکز د کاري پلان له لارې د عدلي تعقیب ګړندی کولو او د ۲۰۲۰ کال په وروستۍ ربع کې په یاد مرکز کې د قضیو ډیروالی، هڅوونکې نښې دي.

۷۷. په دې وروستیو کې د کووید-۱۹ ناروغۍ په راپور شوې قضیو کې د کموالي ترڅنګ، د کوویډ-۱۹ وبا د افغانستان خلکو روغتیا، معیشت او هوسایېنې ته لا هم جدي ګواښ متوجه کړې ده . دوامداره څارنې ته به په افغانستان کې د هغه ویروس د انتقال محدودولو لپاره اړتیا ده، کوم چې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ لامل کیږي. د اوږدې مودې په جریان کې، د وبا څخه د هیواد اقتصادي رغونه به د نړیوالې ټولنې په دوامداره مالي، تخنیکي او جنسي مرستو پورې اړه ولري. زه د غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوم چې د بیا رغونې پروسې په اوږدو کې د افغانستان روغتیا او ټولنیز- اقتصادي غبرګون لپاره خپل ملاتړ ته دوام ورکړي، ترڅو د ناروغۍ خورا ناوړه اغیزو مخه ونیسي، پداسې حال کې چې د کوویډ-۱۹ څخه هاخوا، دغه هیواد د راتلونکې دوامدار پرمختګ لپاره زمینه چمتو کوي.

۷۸. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او زما د ځانګړې استازې او د یوناما رئیسې، دیبورا لاینز څخه، تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د دوامداره سرښندنې چې موخه یې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.